# چندن



Download from:aghalibrary

ریاض تسنیم

چندن
ریاض تسنیم

د کتاب چندن نه انتخاب

# غزلیزه برخه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

Download from:aghalibrary

تماشه دې دَ خپل زړۀ کا
تماشه کۀ دې پکار ده

دَ مجذوبَ دَ خُلې نه وتې
نو خبره خو دَ کار ده

دا چې مالار ته راکاږی
دا دُنیا کومه پۀ لار ده

Download from:aghalibrary

دا به منے چې دروغ هم څۀ پۀ کمال وايو
چاکری هم کړو اؤ شعرونه دَ خوشحال وايو

داسې خاموشه سوزېدۀ هم مزه خپله لری
کوم کوم سری ته به دَ ماتو زړګو حال وايو

ښۀ مطمئن يُو، چې پۀ خپله ګناه ښۀ خبر يُو
نۀ دېوال ورَګنړو اؤ نۀ ورَ ته دېوال وايو

PUKHTOONET

لارې ګواه، دَ رنتنبور نه تر لاهوره پورې
خپلې سندرې دَ زنځير پۀ سُر اؤ تال وايو

دَ هغۀ حُسن پۀ غرور کښې هيڅ کمے نۀ راځی
مونږ کۀ هر څومره داستانونه دَ زوال وايو

خُلۀ مو دې ماته شی، کۀ هغه ورځ پۀ مونږه راغله
چې د تيارو سپه سالار ته به مشال وايو

تسنيمه ! بڼ دَ شاعری شولو لۀ شوره خالی
اوس پۀ دې دَور کښې به چاته خوش مقال وايو

Download from:aghalibrary

دا خلق تـا اؤ نۀ پۀ ما پســـې لاسونه مروړي
تـــول خپلې خپلې مدعا پســـې لاسونه مروړي

دا چـــې پۀ قدر دَ رنـــا اؤ دَ رنګ نۀ پـــوهېدل
هغوی پۀ رنګ اؤ پۀ رنـــا پسې لاسونه مروړي

دواړه بـرباد ، ولې پۀ خپل ځائې مطمئن يو دواړه
نۀ زۀ پۀ وخت ، نۀ وخت پۀ ما پسې لاسونه مروړي

تـــول دَ جادو دَ اژدهاؤ نه امان غـــواړي اوس
څوک پۀ امسا نۀ پۀ موسی پسې لاسونه مروړي

دغه تنها کـــوڅې ودانې وې پۀ ما تسنيمـــــــه !
اوس دې زما غـــوندې تنها پسې لاسونه مروړي

PUKHTO.NET

Download from:aghalibrary

خبر دا دے، چې نۀ بنګ شۀ ، نۀ لونګ شۀ
سخته وسپنه زړګے وۀ ، لاړۀ زنګ شۀ

هر خواهش مې کله دوست، کله دُشمن شی
هر خواهش مې دَ دُنیا پۀ رنګ کښې رنګ شۀ

ستوری سترګو کښې راخېژی اؤ پرېوځی
هر دېوال ځی، تر اسمانه پورې دنګ شۀ

بې کچکوله ملنګی نۀ ده عذاب دے
دا جهان چې خومره لوې وۀ دومره تنګ شۀ

پۀ هر رنګ کښې کۀ ئې ګورې رنګ ئې يو دے
خدائې دې نۀ کا ، کۀ تسنيم دا ستا پۀ رنګ شۀ

PUKHTO.NET

Download from:aghalibrary

نۀ مې نهرونه کنستل ، نۀ دا اووۀ سمندرونه اؤ نۀ غرترمينځه
نۀ وې مضبوطې قلاګانې ،بس نرے دېوال دَهجروۀ اکثر ترمينځه

دادَ داستان کومه حصه کښې مې لاس ومروړل پۀ نورو کردارونوپسې
دا زۀ يواځې يم ولاړ، ولې ولاړيم ، دَ کوم خبراؤدکوم شرترمينځه

زۀ هم زلمے ؤم، شهزاده وُم اؤ راوتے وُم دَ ژوند دَ ښاپيريو پۀ لټون
سترګې چې کوم پلو ته واړوُم ، ولاړوی يو دَتوروکاڼو غرترمينځه

PUKHTOONET
پښتو ډاټ نېټ

تل ئې وژلے اؤ ببخی ئې دَ خپل مرګ پۀ لذتونو خبر کړے نۀ يم
چرته زما دَ وينو څاڅکی هم پراتۀ دی؟ دَمنظر اؤ پس منظر ترمينځه

نۀدَرحمن پۀ شان مې عشق،نومهينے مې دَ بهلول اؤ د اورنګ خوړلے
خو تجربه وه اؤ بلهاډېره ترخه وه ، دَ سرکار اؤ دَ نوکرترمينځه

چرته پۀ زور ويستل پکار دی ، يوه ورځ يا يوه شپه دَ موړ ديدن دپاره
يَه سړيو! مياشتې اؤ کلونه شمېرو، کله وی روژه کله اختر تر مينځه

شپه هم درنه وه، دَ سحر درک هم نۀ لګېد اؤ زړونه هم پښېمان غوندې وو
لارو به څۀ وئېل تسنيمه! عمر تېر وۀ دَ خبر اؤ نۀ خبر ترمينځه

Download from:aghalibrary

نهٔ دي زړهٔ سوُرے دے ، نهٔ دې داغ پهٔ ځيګر ايښے دے
دا دَ محبت پهٔ کومه کرښه دې سر ايښے دے

پال به دَ حافظ اؤ د رحمن ديوان کښې ګورمه
دا ځل مخامخ دې راته داسې منظر ايښے دے

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

هر ځلې چاپېر لکه پرکار لهٔ ځانه چورلمه
هر ځلې دې پښو کښې راته داسې سفر ايښے دے

زمکه مې راکاږی ځان ته ، هسې تيټ روان نهٔ يم
بوج مې دَ خپل عصر دَ ګناه هم پهٔ سر ايښے دے

دا تسنيمه! څوک دے؟ خدوخال لکه زما لري
دا ئې کوم تصوير زما دَ قد برابر ايښے دے

Download from:aghalibrary

تلم اؤ راتلم ، اخر خالی مکان ته ودرېدمه
زۀ چې لۀ ځانه مَرَوَر ؤم ، ځان ته ودرېدمه

دا شپه زمونږ دَ بدبختئ حالونه چاته وائی
يوه شېبه لۀ ستورېو ډک اسمان ته ودرېدمه

خدائې خبر کومې ذائقې مې پۀ زړۀ وورېدې
داچې دَ شونډو دَ شکرو کان ته ودرېدمه

نور دَ دې ويرجهان لۀ هر منظره غلے تېر شوم
تۀ مې ارمان وې اؤ زۀ خپل ارمان ته ودرېدمه

حق دے تسنيمه! دَ باګرام دَ پريزادو جادو
راغلم اؤ خلی دَ ملنګ رحمن ته ودرېدمه

PUKHTO.NET

ژوند ـ زمونږه حوصله ده ، پۀ دې خاوره
مرګ دے هره ساه اؤ شپه ده ، پۀ دې خاوره

خوشبوئی ده ، لۀ رګونو نچوړيږی
وينه ځائې ځائې پرته ده ، پۀ دې خاوره

ډېرې لوبې دَ سرونو سره وُشوې
ډېرو کړې تماشه ده ، پۀ دې خاوره

څړيکې زړۀ نه راوُځی، زړۀ ته واپس ځی
حال دَ زړۀ هم تماشه ده پۀ دې خاوره

رېګ دے ، دشته ده تسنيمه! تنهائی ده
دَ عذاب لاره ووړېده ، پۀ دې خاوره

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نيټ

○

راته معلومه وه ، چاپېره ريا ، نۀ راتلمه
زۀ دې کوفې ته دَ خپل زړۀ پۀ رضا نۀ راتلمه

نۀ دَ بل ځائې ؤم ، نۀ د تېرو زمانو پۀ شانې
دَ دې کوڅو ؤم ، خو پۀ ياد کښې دَ چا نۀ راتلمه

يامې شعرونه يا دَ ويښو شپو زخمونه راؤړل
زۀ چې هر وار لۀ تا راتلمه، تنها نۀ راتلمه

څۀ عجيبه غوندې مزه وی دَ ماضی دَ ياد هم
هسې دَ ورانو کنډرونو پۀ خوا نۀ راتلمه

تسنيمه! درد مې پۀ رګونو کښې موجونه وَهَل
دا چې هجوم کښې دَ دې واړه دُنيا نۀ راتلمه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

چې کلے چُپ وی اؤ رسۍ دَ دار خبرې کوی
نو داسې وخت کښې لېونی دَ کار خبرې کوی

زړونه هم چا دی دَ لعلونو پۀ بدل اخستی
دا خلق خدائې خبر دَ کوم بازار خبرې کوی

PUKHTO.NET

دغه نرګس سترګې اؤ دغه پۀ زړۀ کاڼےجهان
پۀ دغه ګل شونډو به څۀ سرکار خبرې کوی

هر ځائې اؤ هرچا ته مو خپله مدعا بیان کړه
اوس دې پۀ مونږ پسې دا واړه ښار خبرې کوی

تسنیمه! داسې یو همزاد سره مې عمر تېر شۀ
دَ شمار خبرې اوری اؤ د شمار خبرې کوی

عجبه حېراني ده ، عجب غلي يُو، جانانه!
چا داسې ائينو ته وُدرولي يُو، جانانه

نور دا دَ قسمتونو ستوري ښۀ راته معلوم دي
دا ډېره ده ، چې خيال کښې دې راغلي يُو جانانه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

کاش تا خو دَ دې هجر دَ شپې حال پُښتلے نۀ وے
کۀ نور چا نۀ يُو، تا خو ازمائېلي يُو جانانه

نغمې مو لکه سېل نه جُدا شوې زانې ژاړي
دا ځلې داسې زرۀ باندې داغلي يُو جانانه

دې خاورو اؤ ګردونو کښې هم سحر غوړېږو
ګلاب يُو اؤ چا لاره کښې کرلي يُو جانانه

د ځان سره مو جُخت دَ دائرو پۀ سفر بيائي
دې خپلو خواهشونو کلک نيولي يُو جانانه

دي دَور کښې مو دا حواله هم غنيمت بوله
بس وښکې يُو اؤ سترګو کښې راغلی يُو جانانه

تسنيمه! حُسن واړه مو دَ زړهٔ دننه وړُليد
پهٔ خدائې ، کهٔ کوهِ قاف ته پسې تلی يُو جانانه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

دا خو زما زړۀ انتخاب راوړۀ
چا به دَ هغو سترګوتاب راوړۀ

دومره دَ رنګ باران ته وُدرېدلو
مخ مو تک سور لکه ګلاب راوړۀ

هر يو سړے مو پۀ عذاب خوشحال وۀ
هر يو سړی راله عذاب راؤړۀ

دَ خپل خپل مرګ خبر مو څکه راوړۀ
څۀ به دې ښار خانه خراب راوړۀ

څوک به اوس شګو کښې تيکونه ګوری
پنډ دَ سرونو چې درياب راوړۀ

پۀ توره شپه دې مرې ډيوې راوړې
دا دې دَ کوم تپوس جواب راوړۀ

PUKHTO.NET

کاش دَ وطن دَ وينو رنګ دې ياد وے
تا لهٔ درباره چې خطاب راوړهٔ

چې مسخرو دعوې دَ علم کړلې
مونږ دَ هغې زمانې تاب راوړهٔ

ياران لهٔ خپل سخنه وُشرمېدل
چې مې هر تورے انتخاب راوړهٔ

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

## (خوشحال خټک ته نذر)

دُنیا ډکه لهٔ اَلمه
خوشحالی ده څومره کمه

خو دسوزی کړې لکه شمع
اے زما دَ سترګو نَمه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

سرې سکروټې مې سینه کښې
ترږے راغلم لهٔ زم زمه

چې دې خپل ناشونې کاندی
بیا لهٔ غېرو دَ خېر طمع؟

تر دې دمه راسره ئې
افرین شه خپله دمه

خوب خو ستا اؤ زما نشته
خلق خوب کوی بې غمه

بې پړدې مو عمر تېر کړۀ
پۀ پړده کښې لۀ عالَمه

تور څادر دے چې رپېږی
کوم څائې پاتې لۀ ماتمه

خو راياده کربلا کړه
طمع اؤ لۀ دې عالَمه؟

هې توبه ئې دَ نېکی نه
هې توبه ئې لۀ کَرمه

يو ښامار دے ؛ وينې څښښی
لۀ عربه تر عجمه

لارې ستا دَ زلفو لارې
پېچ در پېچه ، خَم در خَمه

بس دا يو حقيقت پاتې
دَ عشق لار ده محترمه

دَ خوشحال برکت غواړه
دَ تسنيم دَ لاس قلمه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نيټ

چا حوصله راکړه اؤ چا مو حوصله وُلیده
تسنیمه! مونږ ډیره بې دړده زمانه وُلیده

شپه ده اؤ شپه ده اؤ دَ زړۀ پۀ رڼوڅی روان یُو
نۀ موسم دشت ولیدۀ ، نۀ مو ښاریه وُلیده

نۀ د ښېرو، نه دَ دُعا برکتونه پاتې
دا چې هر ځائې دَ بلاګانو موسایه وُلیده

سیند دے روان کۀ دَ سرونو کنډولی روان دی
چا مو دَ خاورې دا ویرژنه نذرانه ولیده

چا چې دَ نورو کچکولونو کښې جولۍ څنډله
نن مو دَ هغه فقیر لاس کښې هم کاسه ولیده

دَ ائینو پۀ مخ مو څومره ایرې وُشیندلې
دا مو پۀ څومره ناخوالۍ خپله څهره ولیده

بویه تسنیمه! کۀ لۀ خپلو وینو وُشرمېدُو
بویه کۀ مونږ پۀ غړېدلیو معجزه ولیده

PUKHTO.NET

○

چې دَ صافو اننګو ده
تماشه خو دَ کتو ده

يوه لاره ده دَ ويښو
يوه لاره دَ وودو ده

چې ماران دَخزانو دی
دا دُنيا هم دَ هغو ده

کجاوې دي دَ رېښمو
اؤ سپوږمۍ پهٔ راختو ده

يَه درويشه خدا مسته !
قافله درنه پهٔ تلو ده

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

چې ئې چرته نظیر نشته
زړهٔ دے پیرې ګنی پیر نشته

دَ فقیر نامه هم دا ده
چې نامه دَ فقیر نشته

دَ فقیر سکون هم دا دے
چې ئې بوج پهٔ ضمیر نشته

PUKHTO.NET
پښتو داټ نیټ

دَ فقیر دَ لارو ګرده!
فقیر شته کهٔ فقیر نشته؟

دَفقیر قېد ، ازادی ده
چې ئې پښو کښې زنځیر نشته

دَ فقیر جاګیر خو عشق دے
بل جاګیر دَ فقیر نشته

دَ فقیر سخن ـ شکرې
نور خوارهٔ اؤ تاثیر نشته

دا کلے ویښ دے خو کوی لکه ووده خبرې
ځکه پۀ زړۀ دننه پاتې شوې دَ زړۀ خبرې

دا ځل مې ښه تماشه وکړه دَ نیمګړی جهان
چا به دَ څۀ ارمان کوۀ ، چابه دَ څۀ خبرې

PUKHTO.NET

یا دغه خلق چې لۀ وسپنې هم سخت وُختل
یابه زما پۀ اواز کړلې دېوالۀ خبرې

کله نا کله پۀ خپل ځان پورې خندا هم راشی
دا چې لۀ ځانه مرور شمه پۀ نۀ خبرې

تسنیمه! هر یو کیفیت دَ خپل وجود دننه
نۀ دا ګرمی کوی خبرې ، نۀ ساړۀ خبرې

○

دغه ګومان مهٔ کړه چې نهٔ سوزیږی
چندن ، اګر پهٔ پټه خُلهٔ سوزیږی

تاؤ دَ دي خپل وجود څهٔ ټوقې نهٔ دی
لهٔ خپله تاوه چینار وهٔ سوزیږی

لهٔ خپل قامته دې ګیله کړی خلق
زما اؤ ستا نه دوئ پهٔ څهٔ سوزیږی

تر خپله وسه پورې لار وهل دی
تر خپله وسه وزر نهٔ سوزیږی

تسنیمه! مرګ پسې لاسونه مروړی
څوک چې دَ ژوند پهٔ تنارهٔ سوزیږی

PUKHTO.NET

ځارـ دَ سپرلی نه ئې وربمه قدرَ ته وانخسته
تاله درتلل اؤ چا چنبه قدر ته وانخسته

دومره تادی وه دَ سفر دَ مابنامی پۀ شونډو
ستا لۀ منګُلې چا بوسه قدر ته وانخسته

پۀ ماتو پښو دَ خپل کالۀ دُرشل ته وُرسېدو
وخت وۀ روان، مونږ ترې لحظه قدرته وانخسته

دا خپلې وینې مو څلور ارخ ته وُشیندلې
اؤ خون بها مو کاسیره قدرته وانخسته

دَ جنتونو خواهش دوه ؤ سپېږمو له راوستلو
سرېو! دَ ژوند نه مو مزه قدرته وانخسته

داسې دَ نمر طمعې ړاندۀ اؤ کاڼۀ کړی ووټول
سرېو! پۀ لاس کښې مو ډیوه قدرته وانخسته

PUKHTO.NET

زۀ مطمئن چې دَ هر چا پۀ رنګ کښې نۀ شومه رنګ
تاسره غم ، چا دې نامه قدر ته وانخسته

تسنیمه! خلقو دَ مارانو اجازې غوښتلې
چا هم دَ مینې اجازه قدرته وانخسته

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

لۀ خپله خاکه پسې تګ چې کور برباد وکړے
تسنيمه! داسې څۀ جادو دې پريزادو کړے

زمونږ پۀ شان وو۔ اواره اؤ دړدپدلی خلق
مونږ باندې ظلم کۀ دے کړے، پۀ زړۀ ښادو کړے

PUKHTO.NET

چې ستا پۀ قېد کښې دی هغوی څومره بې غمه وودۀ
چې ستا لۀ قېده دی ازاد ، فرياد ازادو کړے

ټول بامراده ،لۀ صديو مارۀ مارۀ ګرځيږی
کۀ ارمان کړے دَ مراد ، خو نامرادو کړے

اوس ښاپېری پۀ کشمالو نۀ کوهِ قاف کښې اوسی
تسنيمه! ځائې پۀ ځائې سازش دې ادم زادو کړے

ګويا دَ عشق پۀ وُچو ځانګو بيا بهار راغے
دا چې دَ هر يوۀ مجذوب مخې له دار راغے

ما چې سوچ وکړۀ ، کائنات دَ تنها يي نامه وه
ما چې هيڅ نۀ ګڼۀ ، هغه زړۀ مې پکار راغے

څوک چې دَ بل پۀ تماشه وۀ ، دَ هجوم سره لاړ
څوک چې هم خپلې تماشې ته وۀ ايسار ـ راغے

هر څۀ جُدا، چې دَ طلب لارې جُدا جُدا وي
چاله دَ زړو کان، دَ چا مخې له يار راغے

دغه دُنيا دَ سرپيتوب معيارته نۀ رسېده
نۀ بيا داتا راغے ، نۀ رام اؤ نۀ اوتار راغے

لکه ښوره دېوالۀ ترمې ترمې ورژېدۀ
هغه تسنيم چې دَ دردمندو پۀ قطار راغے

PUKHTO.NET

لۀ بلې خوا راغلم اؤ بيا پۀ بله اووتمه
دا چې لۀ خپل کفنه څو څو ځله اووتمه

دې وُنو بوټو راته هره لار راؤښودله
زۀ پۀ تپوس تپوس لۀ دې ځنګله اووتمه

عشق کرشمه ده، ګنې بله کرشمه چرته ده
تا چې څارله پۀ هغې دُرشله اووتمه

ما به دَ هجر دَ انا لۀ قېده څوک وُباسی
لۀ خپله خاکه خوبه کله کله اووتمه

نۀ دَ خپل ځان پۀ طرف وُم، نۀ دَ جهان پۀ طرف
دَ دې بې خونده تماشې نه خپله اووتمه

زۀ چې پۀ شونډو ګرځېدمه ، هيڅ پروا مې نۀ وه
زۀ هله ورک شوم ، چې دَ زړۀ لۀ تله اووتمه

داخل راغلے دَ کوفيانو پۀ صلاح رضا يم
تسنيمه! خدائې زده کۀ لۀ دې مقتله اووتمه

بیا درله هر څهٔ درځی
حل کهٔ دَ دي زړهٔ درځي

ټول تراخهٔ زمونږ نصیب
تاله ټول خوارهٔ درځی

PUKHTO.NET

څوک چي پهٔ هیڅ نهٔ در تلل
اوس پهٔ نیمه څُلهٔ درځی

خوب دَ زانو مهٔ وینه
تاله الوتهٔ درځی؟

زهٔ اؤ دَ الف معنا؟
تاله ګنی نهٔ درځی؟

یَه دَ هجر سري سیلی
شرم درله نهٔ درځی

وي مې ، دُشمنی مې زده
وي ئې ، نور به څۀ درځی

وي مې ، دَ تسنيم علاج
وي ئې کج بانړۀ درځی

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

څومره بې ځایه رژېده، څومره بې رنګه شوله
لاړه اخر دَ ښائستونو دُنیا ړنګه شوله

بس خو دَ لاس پۀ اشارو به سره زړونه تش کړو
دا دَ ګونګیانو قافله کۀ مو تر څنګه شوله

PUKHTO.NET

ښه ده اخر د ائینو دَ خندا ورځې راغلې
ښه ده ـ دَ هر سړی څهره دومره بد رنګه شوله

څوک به چندن،څوک به لونګ دَ عشق دَ لارې وېشی؟
دا ښاریه کۀ بې فقیره ، بې ملنګه شوله

بیا دَ اسمان پۀ وسعتونو کښې ورک شوی ښۀ یُو
تسنیمه! دا وارې کۀ زمکه پۀ مونږ تنګه شوله

دا دې کوم ياد ته دَ بنو څانګې راؤڅنډلې
تسنیمه! لاړې اؤ لۀ خپله برمه پریوتلې

دغه ګردونه هم زمونږ دَ داستانو نو نه ډک
تا کۀ پۀ غور لږ زمونږه لارې وڅارلې

ستا پۀ دروغو باندې ځپ پاتې کېدۀ وو رواج
ستا پۀ ،، رشتیاؤ،، مې هم لۀ ځانه سره وځندلې

یوه خوبی لکه ایمان مو سلامت ساتلې
نۀ مو قلم خرڅ کړے ، نۀ مو سترګې وګنډلې

دغه دُنیا چې ښکله وه ، پۀ هغه شان روانه
تسنیمه! خپلو خواهشونو پۀ زړۀ وداغلې

PUKHTO.NET

زمونږ دَ پاره قېد، زمونږ دَ لاسو زنځيرونه
دَ هرې غاړې هار دی دا زمونږ محبتونه

دا شپه مو دَ درنو بنو پهٔ حال باندی خبر ده
اے خوبه! مونږ ليدلی پهٔ هر خوب پسی خوبونه

PUKHTO.NET

وئېل ئې دَ تيارو پهٔ ضد دَ چيا مرسته لرې هم
وئېل مې دَ هوا پهٔ وږو باردی مشالونه

تسنيمه! چې دا زيږ رنځوره نمر پهٔ غرغره وهٔ
مونږ وُشيندل دَ ژوند پهٔ اننګو باندې رنګونه

ياران پهٔ قافيو اؤ رديفونو پسې ورک وو
تسنيمه! چاته ياد وو دَ غزل نزاکتونه

زۀ او خواهش د ښاپېرېو دَ ښار
يعنى سينه کښِې شته سا ګانې دَ کار

مات مې ورمېږ لکه د مړاوى ګلاب
دا زۀ پانسى يم پۀ کوم ښاخ دَ بهار

جُرم به يو پۀ يو منمه اخر
زۀ لاس ترلے اؤ ستا لاس کښې مهار

ښه ده ، چې نور پيغمبران نۀ راځى
ښَه ده ، پۀ خپلو وينو رنګ ښۀ دے ښار

يَه زور اورو زړۀ مو وُچاؤدلو
شونډې پرانيزئ ، کړئ خبره دَ کار

PUKHTO.NET

هغه هم زهٔ وُم ، چې سېلاب پسې مې کور ګرځوهٔ
دا دَ عشق پېټے مې دَ خپل زړګی پهٔ زور ګرځوهٔ

هر خوا چې تلم دَ خواهشونو کړی نهٔ ختمېدې
هر خوا چې تلمه خو نظر مې ستا پهٔ لور ګرځوهٔ

خود به خالی منګُلې تلې لهٔ بنارېې فقیره!
چې دَ انا کچکول دې هر ځائې کښې نسکورګرځوهٔ

ډېره پهٔ ګرانه مو دَ قطب مرتبه موندلې
نهٔ مو ګرېوان ، نهٔ مو زخمی زړهٔ کورپهٔ کور ګرځوهٔ

تسنیمه! تګ وهٔ یقینی لهٔ بې یقینه کوڅو
چې مو پهٔ دې غلبېل غلبېل سینو کښې اور ګرځوهٔ

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

نهٔ مو ملکونه غوښتهٔ ، نهٔ مو جاګیرونه غوښتهٔ
بس دَ نازکو مهوشانو نه مو زړونه غوښتهٔ

مونږه دَ خپلو ډوبېدوتماشه هم وُنهٔ کړه
خلقو دَ سترګو سمندر نه هم لعلونه غوښتهٔ

نهٔ وو زما دَ زړهٔ پهٔ شان دَ شوخ وشنګوزړونه
چې ئې دَ عشق پهٔ لویه لاره کښې حدونه غوښتهٔ

چې اقتدا مو دَ ملنګ عبدالرحمن کړې ده
بیا به مو څهٔ رنګ لهٔ درباره خطابونه غوښتهٔ

تسنیمه! چاوې چې مېوې دَ صبر نهٔ دی خوږې
خو محبت کښې چا دَ صبر تعویذونه غوښتهٔ

PUKHTO.NET

تسنیمه! څکه مې په سترګو کنبې ساتل یاران
لکه دَ شګو دَ وخت لاس کنبې رژېدل یاران

ما به تر کومې شرنګ دَ زړونه ساتل یاران
دومره په لړه لړه بېعه خر ښېدل یاران

دا ځلې بیادې دَ بادونو په اسونو سوارهٔ
نهٔ چاته ګوری ، نهٔ په زمکه ایږدی پل یاران

څومره په لویو ځلو ورې ورې خبرې کوی
څومره نیمګړې ښکارې ، څومره مکمل یاران

رانه چاپېره ټول دَ پنجو په سرونو ولاړ
چا وې زما تر قده نهٔ رارسېدل یاران

څومره نا ښایه دې سبب دَ تنهایی وُپښتهٔ
څهٔ بې اختیاره مې دَ ځلې نه وُوتل ،، یاران،،

---

دا حقیقت په باخبره دېوالونو لیکه
تسنیمه! ستا په اواز نهٔ را خبرېدل یاران

PUKHTO.NET
پښتو جاب نیټ

کېدے شی ، چې پهٔ خوب کښې ئې لیدلی مرادونه
کېدے شی ، چې دا خلق پهٔ هوا ږدی قدمونه

کېدے شې ، بې مقصده مو دا لارې وی کږ کړی
کېدے شې ، اپو ته مو وی نیولی کچکولونه

کېدے شی ، چې مونږ ټول دَ رقابت سندرې وایو
کېدے شی ، هره ساه کښې مو ساه اخلی عذابونه

کېدے شی ، زمونږ هره اندازه به رسا نهٔ وی
کېدے شی ، چې انکار ته مو وئېلی وی ګلونه

کېدے شی ، ستا پهٔ نوم ئې تورې خاورې وی اغوستی
کېدے شی ، هجر زادو پټ پټ کړی ماتمونه

کېدے شی ، چې دې خُلهٔ وی پسته کړې لېونوته
کېدے شی ، چې دې شاته وی نیولی زنځیرونه

کېدے شی ، چې د صبرهر تعویذ مو وی پهٔ غاړه
کېدے شی ، چې ستا غاړې ته مو نهٔ رسی لاسونه

PUKHTO.NET

کېدے شي ، دَ باګرام لهٔ ترکو رقص وی هېر شوے
کېدے شي ، چې رحمن  لهٔ  دړده نهٔ کوی غږونه

کېدے شي ، چې تسنيم دَ تنهايۍ سېلاب اخستے
کېدے شي ، چې دي خلقو ورکاږهٔ کړهٔ ورمېږونه

---

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

ځان له وَ هَم لار پيره!
چا ته شم ايسار پيره!

شين لوګي ، نۀ هو چغه
سوړ دے هر بازار پيره!

درد معنا بدله کړه
هر سړے قلار پيره!

شپه مې پۀ ځنګل وروده
شپه ، لکه تور مار پيره!

خوب اؤ خُلۀ يو ځائي غواړی
خلق ډېر هوښيار پيره!

سرې سکروټې خلې ته کړم
شی خپله اظهار پيره!

رقص دے اؤ دَ وينو رقص
ښار تک سُور انار پيره!

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

هر دھمال اؤ حال کښېږي زهٔ
سَريم دَ قطار پيره!

کنده اؤ غر چاته ياد
ستا لاس کښېږي مهار پيره!

يخ يخ قدمونه ږدم
ګرځم پهٔ انکار پيره!

ډېر به مې نرګس وُوخوښ
ښهٔ يمه بيمار پيره!

PUKHTO.NET

زهٔ چې دَ هيڅ کار نهٔ وم
زهٔ ئې کړم دَ کار پيره!

عشق خوارَوَل نهٔ کوي
کړي سړے ، سردار پيره!

يو تسنيم ډاډه وهٔ ډېر
هېر شهٔ اؤ کهٔ شمار پيره!

سبا ړُوبه د اسمان کوی سپلونه
اؤ دې زړۀ پۀ زمکه وُلیدل خوبونه

سبا ړُوبه د ځوانۍ پۀ خوب ووده وی
اؤ دا تږے زړۀ به وکړی دیدنونه

PUKHTO.NET

سبا رُو به پۀ صدیو کښې یوه ورځ وی
او پۀ دغه وخت به وخت کوی نازونه

سبا رُو به حال دَ زړۀ دَ هجر وائی
اؤ ورو ورو به تېرې ورځې کړی ویرونه

سبا رُو به شهزادګۍ وی پۀ داستان کښې
اؤ چاپېره به ګډېږی کردارونه

سبا رُولکه شهد شونډې واکړی
اؤ لۀ حلقه به تېرېږی جنتونه

سبا رٌو به لکه سپیني متې پرق کړي
اؤ راندۀ خلق به راؤړي بینا زړونه

سبا رٌو به مشک پۀ دواړه لاسه نولي
اؤ چاپېره به فضا وهي موجونه

سبا رٌو به د مسکا ګنجونه وېشي
اؤ دا سرۀ ګلاب به ټک وهي لاسونه

سبا رٌو به تور ګتان زلفي پرانیزي
اؤ چاپېره به وریږي بارانونه

سبا رٌو به کجاوه کښې لونګ پاشي
اؤ دا دشتې به پۀ ځان کوي نازونه

سبا رٌو به کج حَبَش بانۀ کړي پورته
اؤ عالم به دَ تیارو کړي منتونه

سبا رٌو به د غزل مصرع کړي پورته
اؤ جوتې به خوري دا غرونه اؤ سیندونه

سبا رٌو به کړي نظر پۀ ملنګانو
اؤ چاپېره به وي سترګې کچکولونه

سبا رٌو به کړي نظر پۀ مسافرو
اؤ دي خلقو نه به هېر شي خپل کورونه

PUKHTO.NET

سبا رُو به اشاره کړی لېونو ته
اؤ دا روغ به پهٔ سرونولی رېګونه

سبا رُو به فېض د ژوند دَ لارو عام کړی
اؤ دا مرګ به روزانه مروړی لاسونه

سبا رُو به خواهشونه وی تسنیمه!
سبا رُو به وی پهٔ خوب پسې خوبونه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

---

وئېل ئې ، دا خفه درنه پۀ څۀ شی ښاريې دی؟
وئېل مې ، دواړه لاس کښې مې نيولې ائينې دی

وئېل ئې ، دا دَ کوم بدن خوشبو در پسی راغله
وئېل مې ، ستا لۀ مخه خوشبويانې راپسې دی

وئېل ئې ، محبت لۀ قبضه ډکه استانه ده
وئېل مې ، ستا دوه شونډې ئې شيرينې دروازې دی

وئېل ئې ، زما هجر يوه لويه مدرسه ده
وئېل مې ، ستا دَ وصل هم نايابه تجربې دی

وئېل ئې ، پۀ خندا کښې تور لونګ شيندې لګيائې
وئېل مې ، دا هم ستا دَ قربتونو کرشمې دی

وئېل ئې ، ماتې ماتې څښې راغلمه دا چرته ؟
وئېل مې ، دَ دې خلقو زړونه نۀ دی هديرې دی

وئېل ئې ، نۀ دې زور شته نۀ دې زر اؤ عاشقی کړې
ئېل مې ، ملنګانو نه مې کړې لاس نيوې دی

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

وئېل ئي ، غټو غټو کتابونو کښې څۀ ګورې؟
وئېل مې ، د خپل ځان لټون عذاب لمحې دی

وئېل ئې ، لږ را دېخوا شه ، دا زړۀ دې دَ کټو دے
وئېل مې ، زړګےڅۀ دے ، خو دَ وينو سرې ولې دی

وئېل ئې ، دَ غزل لهجه زخمی لرې تسنيمه!
وئېل مې ، دَ وختونو خندا ګانې راپسې دی

---

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

○

سترګې مشال لرم ، نهٔ لاس کښې مې ډيوه ـ ملنګه!
لکه د هجر دَ شپې هره لار وورېده ـ ملنګه!

ښَه ده ، چې هره کربلا مو لهٔ نزدې وُليده
ډېره مو کړې وه لهٔ ورايه تماشه ـ ملنګه!

څومره بې وسه ننداره مو دَ بازار وُکړله
چرته ارمان ، چرته خوبونه مو ګانه ـ ملنګه!

دا خلق ساه نهٔ اخلی ، مرګ ته ورځې شپې لنډوی
دا جهان نهٔ دے ، دا جهان دے هديره ـ ملنګه!

ډېره اسانه ده ، بيا دلته ګُذاره ـ ملنګه!
بس خو لستونړے ورکوه اؤ لاس ساته ـ ملنګه!

هره څهره ده ، دګومان پهٔ ادائه ولاړه
هر تعلق دے ، لکه تېره زمانه ـ ملنګه!

توره تيارهٔ ده اؤ ياران دی دَ مارانو پهٔ شان
تهٔ پهٔ چا ملاترړې ، تهٔ خپله لار وَهَه ـ ملنګه!

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

زمکه روانه ده اؤ خاورې پۀ سرونو نولی
خلق ولاړ دی ، دَ خپل ځان پۀ تماشه ـ ملنګه!

دَ ښاپېرېو لۀ بور جله داسې مۀ تېرېږه
کۀ سپېلنی نۀ وی ، نو مالوګے کوه ـ ملنګه!

یا خو دَ هر سړی زخمونه کشمالی نۀ سپړلی
یا محبت دے ، خپله خپله تجربه ـ ملنګه!

دغه چې لاس تر زنې ناست دے ، لۀ حېرته ګونګ دے
دغه سړے وۀ ،دَ خپل دور شهزاده ـ ملنګه!

PUKHTO.NET

خوب مې لېدۀ اؤ دَ دې خوب پۀ معنا هم پوهېدم
لارمې لیده اؤ رانه لاره ورۀ کېده ـ ملنګه!

ورځ دَ تسنیم غوندې پۀ نۀ زړۀ پۀ خندا تېروه
چې نیمه شپه ، خپل زخمونه نۀ دې شمېره ـ ملنګه!

یو تهٔ دَ قدر شپهٔ کښې بلېدلې - لونګینه!
دا لپې چې مې پورته وې نیولې - لونګینه!

مودونه دَ تیارو لهٔ ځنګلونو راتېرېږو
مودونه مو سپوږمۍ پهٔ پال نیولې لو نګینه!

هر کاڼے اؤ هر بوټے به زمونږ سندرې وائی
تهٔ بیا کهٔ لهٔ دې دشته تېرېدلې - لونګینه!

هر څوک دَ خپلې برخې دَ عذاب سره پهٔ جنګ وهٔ
زمونږه لارې کوم سړی څارلې لونګینه

دا واورې اؤ ورېځې اوس دَ څهٔ دَ پاره ووری
دا زمکه ده پهٔ وینو لمبېدلې - لونګینه!

ړندوته مو دَ ګل د نازکۍ کړهٔ صفتونه
کڼوته مو دَ کورتمبې وَهَلې - لونګینه!

تسنیم او د تسنیم پهٔ رنګې ډېر دَخلقو هېر وو
یو تهٔ وې ، چې لهٔ چانهٔ هېر بدلې - لونګینه!

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

لمبې دی ـ پورته کیږي لۀ زمینه ـ لونګینه!
حذر لۀ دې ازغی ازغی سپرلی نه ـ لونګینه!

دې درستې ښاریې ته څوک دَ زړه حالونه وائی
ګیله دَ سړی کیږی ، دَ سړی نه ـ لونګینه!

دا څکه نۀ یقین اؤ نۀ دَ ژبې برکت شته
چاوُنۀ کړه یوه خبره سپینه ـ لونګینه!

ناشونې ده ، خو مونږه ته ناشونې نۀ ښکاریږی
دا زهر چې را څاخی لۀ ګبینه ـ لونګینه!

تسنیمه! ښکته پورته دَ باګرام عزیز خانان دی
زړۀ څۀ کوی ، دُنیا پۀ زَر مئینه ـ لونګینه!

PUKHTO.NET
پښتو اؤ ادب

فرهاده ! دَ زړهٔ وینې دې شینده لکه رنګونه
فرهاده ! چا دَ پیو بهیولَي دي نهرونه

فرهاده ! زندګی دَ غړپدلو سترګو خوب دے
فرهاده ! چا دَ باد پهٔ وږو ایښې دي سرونه

فرهاده ! بس ګلاب ګلاب خوبونه مو سینو کښې
فرهاده ! نهٔ شیرینه ده زمونږ ، نهٔ جنتونه

PUKHTO.NET پښتو ډاټ نېټ

فرهاده ! هر یو شے دَ جُدایۍ سندرې وائی
فرهاده ! دَ دې غرهٔ نه اوس راخیژی اوازونه

فرهاده ! دَ خپل ځان اؤ دَ دُنیا مینځ کښې ولاړیو
فرهاده ارمانونه! مو دَ زانو قطارونه

فرهاده !کبر چاپېره فاسقان و فاجران دی
فرهاده ! دا دَ چا پهٔ لاس راغلی هنرونه

فرهاده ! واپس نۀ راځی دَ زرو لۀ بازاره
فرهاده ! څۀ ارزان شُو دَ يارانو ايمانونه

فرهاده ! ډول باجوته پۀ ګډا هم آسره نۀ کړی
فرهاده ! دی موسم راۋړۀ کچه کچه خويونه

فرهاده ! دَ خوشحال اۆ د تسنيم قيصه يوه ده
پۀ ژوند لکه تبـــــشيی مو چِلَولی قلمونه

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

مرشده! دا دې کړے کوم جادو اؤ کوم افسون دے
وئېل ئې ، محبت خو دحېرت دَ لارې يُون دے

مرشده! دَ معنو پۀ ځنګلونو کښې دې ورک کړم
وئېل ئې ، زندګی خو نوم دَ ورکې اؤ لټون دے

PUKHTO.NET

مرشده! دا زړګے ولې نرے نرے دوړيږی
وئېل ئې ، هر ارمان دَ نيمې لارې نه راستون دے

مرشده! دَ طلب چينې مې سترګو کښې وُچيږی
وئېل ئې ، د طلب سفر خو رود دَ ځيګرخون دے

مرشده! زۀ هم ګل وُم ، پۀ بڼو مې خاورې راوړې
وئېل ئې ، ګل اؤ خاوره ـ محترم غوندې ترون دے

مرشده! زمونږ خپلې مجبورى ، دَ دُنيا خپلې
وئېل ئې ، دَ دُنيا کله زمونږ پۀ لاره يُون دے

مرشده! د سرونو شمېر پکار دے کۀ دَ زړونو
وئېل ئې ، زړۀ چې زړۀ وی ، نو يو هم ګنج دَ قارون دے

مرشده! پرون بل څۀ ائينې وئېل ، نن بل څۀ
وئېل ئې ، محبت کښې څۀ حساب دَ نن پرون دے

مرشده! دَ مستئ نه پۀ يوه پونده تاوېږم
وئېل بې ، دَ عشق هره ننداره کښې زړۀ راښکون دے

مرشده! هار دَ تکو سپينو لېچو مې پۀ غاړه
وئېل ئې ، پۀ خوبونو کښې دا خوب دې نېک شګون دے

مرشده! دَ رنګونو پۀ ټالونو کښې جُونې خورم
وئېل ئې ، هجر زاده پۀ نصيب دې سباؤن دے

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

یوعام غوندې سړے وۀ ، قلندر نۀ وۀ مرشده!
تسنیم خو ستا د کربښو نه بَهَر نۀ وۀ مرشده!

دا خدائې خیر دَ کومو دُعا ګانو برکت دے
زما خو پخپل ځان دومره باور نۀ وۀ مرشده!

منمه چې دا ښار دَ بربادی پۀ لور روان وۀ
هیڅ نۀ وو ، خو زړۀ داسې هم کنډر نۀ وۀ مرشده!

یوزۀ دَ مدح خوانو پۀ هر بار کښې کوږ لګے وُم
زده کړے مې بس دغه یو هنر نۀ وۀ مرشده!

ساتلی ئې پۀ شونډو دروغژنه هر کلی وو
خلاص کړے چا دَ زړۀ دَ قلا وَر نۀ وۀ مرشده!

دې مرګ چې لۀ کافورو جولۍ ډکه وه راوړې
دا ټول کلے خبر وۀ ،خو خبر نۀ وۀ مرشده!

خبر چې شۀ دَ هجر د کېمیا لۀ خاصیته
تسنیم خاورې ایرې وۀ ، بیا سرۀ زرنۀ وۀ مرشده!

PUKITO.NET
پښتو ډاټ نیټ

درویشه خدا مسته ! دَ جهان پهٔ زړهٔ کښې څهٔ دی؟
وئېل ئې ، پهٔ خلا کښې تر مطلبه رسېدهٔ دی

درویشه خدا مسته ! دَ وجود نه مې شغلې څی
وئېل ئې ، محبت خو رنګ اؤ نور کښې الوتهٔ دی

درویشه خدا مسته ! جدائی ته مې زړه کیږی
وئېل ئې ، جدائی خو پهٔ سکروټو ګډېدهٔ دی

درویشه خدا مسته ! د حدونو حد هم شته دے؟
وئېل ئې ، د حدونو حد نه اخوا ته هم څهٔ دی

درویشه خدا مسته ! قندهار دے اؤ انار دی
وئېل ئې ، دغه خوب دې پهٔ جلوه کښې ورکېدهٔ دی

درویشه خدا مسته !حال دَ عشق دَ وطن وایه
وئېل ئې ، سینه داغ وړی ، کهٔ ځوانان دی کهٔ زاړهٔ دی

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نیټ

درویشه خدا مسته اپهٔ صدیو باندې محیط یم
وئېل ئې ، صدی څهٔ دی خو دَ شګو رژېدهٔ دی

درویشه خدا مسته لعل دَ هر سړی نه ورک دے
وئېل ئې ، زندګی خو د باړې خړې اوبهٔ دی

درویشه خدا مسته ! دَ تسنیم سترګې نرګس شوې
وئېل ئې ، دَ عشق رنځ خو دعشاقو دَ مخ سرهٔ دی

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

داچې پۀ توره شپه روان دے اؤ توبې وُباسی
تسنیمه! څوک خو لۀ ظالمه ښاره پښې وُباسی

دغه سړے چې محبت پېژني ، خدائې پېژني
نۀ ئې چهلې دی لګولی ، نۀ چهلی وُباسی

څومره عجبه ده ، د هجر دَ ماښام تماشه
تا پۀ هغې لارې وُباسی ، ما پۀ دې وُباسی

بس خو تسنیم دے ، ساه ډوبې زغمی اؤ ژوندتېروی
خلق لګیا دی ، رُخ دَ باد ته دروازې وُباسی

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ

وي ئې ، څۀ دی پۀ دُنیا ښۀ
ما وئیلې صورت ستا ښۀ

وي ئې ، ښَه بې خبری ده
ما وئیلې خبر لا ښۀ

PUKHTO.NET

وي ئې ، رنځ دې کوم پکار دے
ما وئیلې، لا دوا ښۀ

وي ئې ، زخم کوم يو غوره
ما وئیلې بس زما ښۀ

وي ئې ، څومره دې یاران دی
ما وئیلې زۀ تنها ښۀ

نبه پوهېدم - چې یو پهٔ یو دَ حافظې نه ووځی
دا پریزاد به یوه ورځ دَ دې وودې نه ووځی

ځوک لېونی دی ؟ چې دُنیا ته دَ زړهٔ حال اووائی
ځوک لېونی دی؟ چې دَ زلفو د حلقې نه ووځی

لارې تمامې کله دشت ، کله ځنګل ته رسی
سرے پهٔ څهٔ پسې دَ کور دَ ویرانې نه ووځی

بیا دسمبر دے اؤ زهٔ بیا دَ خاورو ځلی شمارم
ځومره پهٔ پټه ځُلهٔ یاران دَ قافلې نه ووځی

هر چاد خپل ذرې ذرې وجود نه غېږه تاؤ کړه
ځوک به اخر دَ کومې کومې دائرې نه ووځی

څهٔ عجب زور دے دَ جلوؤ اؤ پلوشو اتڼ کښې
تسنیمه! قطب هم دَ خپلې استانې نه ووځی

PUKHTO.NET
پښتو ډاټ نېټ



دهردور شاعری دیوګروه شاعری وی چې موضوعات اوکړۀ ورۀ ئې یووی . ریاض تسنیم د
خپل عصر ګروه کښې دنورو تولو غزل ګو شاعرانو نه نوره هم تازه بیان، منفرد اوٚ
پسته لهجه راورې ده . د هغهٔ د مضمون سنجیدګی اومعتدل تکلف د شعر شعریت اوتغزل
ته نقصان نۀ رسوی . ځکه چې تسنیم یو زرخیز ذهن لری اوغزل دهم هغه ذهن نه ودهٔ
مومی چې زرخیزی لری . دهغهٔ بیلا بیل موضوعات او دبحرونو، لفظیاتو اوبیان تجربې
شائستګی او شګفتګی او انسانی ژوند اوکائنات سیر حاصل تبصره دهغهٔ د مضبوط
تخلیقی قوت غمازی کوی .

زۀ دادعوی کولے شم چې غزل به د تسنیم د هنرنه ډیره فائده مومی .

Download from:aghalibrary

افتاب بدر

اپریل ۲۰۱۱

Price: 200